# د حضرت عیسی علیه السلام ژوند ته کتنه

Ketabton.com

راټولوونکی : سراج الدین افغان

کال:.....................................۱۳۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د حضرت عیسی علیه السلام پیدایښت:

یوه ورځ بي بي مریم (رض) ته د کور د یو حصّې په خالي مقام کې په حکم د الله تعالی جبرائیل علیه السلام د بنیادم په صورت کې ښکاره شو، مریم بي بي چې د دې د یو ښایسته نارینه انسان په هیت کې ولیده نو وې ویل ته د الله تعالی نه ویرېدونکی انسان یې نو له مانه لوی شه هغه وویل زه جبرائیل ؑ د الله تعالی فرشته یم تا ته زیری درکوم چې تا ته به الله تعالی زوی درکړي نوم د هغه مسیح عیسی بن مریم دی، دی به د الله تعالی د مقربینو ځنې وي خرق عادت به په معجزه سره له ده نه ښکاره کیږي، دی به بني اسرائیلو ته د الله تعالی له جانبه پیغمبر وي دي وویل ما ته د یو بنیادم لاس نه دی رسیدلی نو بې پلاره به څه شان زما زوی پیدا شي، جبرائیل علیه السلام وویل دا د الله تعالی له جانبه فیصله شوې کیدونکی کار دی، الله تعالی په دې قادر دی چې بې له واسطې د پلاره صرف یوازې له موره اولاد دی دي ته ورکړي. په قدرت د الله تعالی نه پس په رحم د مریم رضی الله تعالی عنها کې حمل پیدا شو او حضرت عیسی علیه السلام یې په حمل شو.

مریم (رض) بی بی چې د حمل زیږولو په لنډ وخت راتلو باندې پوی شوه، نو د ښار نه بهر لرې مکان ته لاړه، دا مکان یا په غره کې دی یا دا مکان د بیت لخم میدان کې دی چې شپږ میله د بیت المقدس له ښار نه لرې دی.

د مریم (رض) بی بی د رحم په میاد کې مختلف اقوال راغلي دي، بعضو بزرګانو ویلي دي چې دا حمل اته یا نهه میاشتې وه، بعضو ویلي دي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمل او وضع (يعنې زيږول) د حمل په يو ساعت کې شوی دی، په تفسير زادالتفسير کې د نهو ساعتو قول راغلی دی، اوزدالسير له مقاتل نه د يو ساعت قول هم نقل کړی دی، بهر حال د مريم (رض) بی بی چې په خپل ځان پوی شوه، نو بهر په لرې ځای کې د کجورې يوې ونې ته يې شا ولګوله او دې سره دا غم پيدا شو چې زما زوی پيدا شي نو خلک به راته وايي چې دا اولاد ستا له کومې پيدا شو، دې په افسوس سره وويل کاش چې زه له دې نه مخکې مړه وای، او د چا په ياد کې نه راتلی په دې وخت کې په هغې باندې تنده او لوږه راغله، دې ته د کجورې د ونې نه لاندې مکان نه اواز وشو! تا نه لاندې مقام کې د اوبو واله ده، د هغې نه اوبه څښه، او د کجورې څانګه وخوزاوه هغه به تازه کجورې تا ته راوغورځوي څښاک کاوه، څوک چې تا سره خپل مُبارک فرزند ووينې او تا ملامته کوي، نو ته ورته ووايه د سکوت (چپوالي) روژه ده، زه نن چا سره خبرې نه کوم.
حضرت مريم (رض) بی بی خپل مبارک محترم زوی په غيږ کې نيولی ښار ته راغله، د خپل خاندان قوم چې حضرت مريم (رض) سره په غيږ کې هلک وليده نو پوه شول چې دا هلک هم د دې زوی دی، دې ته يې وويل اې مريمې تا خو مذموم او بد کار وکړ، ستا پلار او مور دواړه پاکان بنده ګان د الله تعالی وو، او ته هم اول په پاکۍ مشهوره وې، آيت کريمه کې په يَا أُخْتَ هَارُوْنَ دې سره خطاب شوی دی هارون دغه زمانه کې يو پاک بنده د خدای وه، يعنې د هارون په شان ته هم نيکه ښځه وې، حضرت مريم بی بی ته جبرائيل عليه السلام ويلي وو، يا دې ته په زړه کې القاء شوې وه، چې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سکوت په روژه محکمه اوسه، حضرت عیسی علیه السلام په پخپله ځواب قوم ته ورکوي، له دې وجې حضرت مریم (رض) حضرت عیسی علیه السلام ته اشارت وکړ یعنی دا مبارک معصوم زوی به زما تاسو سره د دې متعلق خبرې وکړې، دوی دې خبرې ته تعجب وکړ، ځکه چې له نوي زیږیدلي معصوم نه خبرې کول ډېره عجیبه او له عادت نه خلاف دي، په دې وخت کې عیسی علیه السلام په خپله خبرې شروع کړې او ویې ویل: "زه د الله تعالی بنده یم، ما ته یې کتاب را کړی دی، زه یې پیغمبر کړی یم، او ما ته الله تعالی په وخت د حیات زما کې آمر په لمانځه او په زکوة کړی دی، او زه الله تعالی مور خپلې سره احسان کوونکی ګرځولی یم، زه الله پاک د ظلم کبر، بد بختی نه محفوظ ساتلی یم، زه الله تعالی د پیدا کېدو په وخت کې خاوند د سلامتیا او خاوند د امن ګرځولی یم."

حضرت عیسی (ع) د نزول د انجیل شریف او خپل نبوت خبر خلکو ته له دې وجې ورکوو، چې عیسی علیه السلام لا د حضرت بی بی مریم (رض) په ګېډه وه چې الله تعالی ورته حفظ او فهم د انجیل شریف عطا کړی وه، او په حالت د صُغر کې مرتبه د نبوت او رسالت هم الله تعالی عیسی (ع) ته ورکړی وه.

## د حضرت عیسی (ع) پیغمبري او معجزې:

قصص القرآن عربی کې وایي چې عیسی (ع) چې د دېرشو (۳۰) کالو په عمر شو نو الله تعالی خپل پیغام رسان وګرځاوه، خو په صاوي شریف کې وایي قوي دا ده چې عیسی (ع) د ځلویښتو کالو په عمر د نورو پیغمبرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شان پیغمبر شوی دی، اتیا کاله یې د حق شریعت تبلیغ کړی دی، او د یو سلو او شل کالو په عمر الله تعالی په خپل قدرت او حکمت آسمان ته پورته کړی دی.

الله پاک چې عیسی(ع) پیغمبر کړ نو ګڼې معجزې یې ور کړې، له موره پیدا شوی ۲ړوند، ابرض، ګوډ، شل، لیونی شوی بنیادم به یې په مسح اوکُف کولو په قدرت او حکم د الله تعالی جوړول، مړي به یې په قدرت او حکمت د الله تعالی ژوندي کول او به کورونو کې ذخیره شوو طعامونو خبر ور کول او داسې نور معجزات.

حضرت عیسی(ع) د خلکو ډېر محبوب شو له هر طرف نه به خلک ده ته راتلل، ډېر ځلې به په یو ساعت کې په زرګونو مریضان جمع شول، کوم فریضان چې به په خپله حاضرېدای شول، نو په خپله به راغلل او د کومو به چې د راتلو توان نه وه نو عیسی(ع) به هغوی له تشریف یوړو عیسی(ع) به مریضانو ته د صحت دعا کوله او الله تعالی هغوی ته شفا ور کوله.

د عیسی(ع) د دُعا کولو شرط ایمان راوړل وو یعنې هغه مریض به یې مس کوو او د صحت دعا به یې ورته کوله چې په عیسی(ع) به یې ایمان راوړ، د مریضانو د جوړیدو او د مړو د ژوندي کېدو لپاره به عیسی(ع) د الله تعالی په جناب کې دا دعا عرض کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ اِلٰهُ مَنْ فِی السَّمَآءِ وَ اِلٰهُ مَنْ فِی الْاَرْضِ لاَ اِلٰهَ فِیْهِمَا غَیْرُکَ وَ اَنْتَ جَبَّارُ مَنْ فِی السَّمٰوٰاتِ وَ جَبَّارُ مَنْ فِی الْاَرْضِ لاَ جَبَّارَ فِیْهِمَا غَیْرُکَ وَ اَنْتَ مَلِکُ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَلِکُ مَنْ فِی الْاَرْضِ لاَ مَلِکَ فِیْهِمَا غَیْرُکَ وَ اَنْتَ حَکَمُ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَ حَکَمُ مَنْ فِی الْاَرْضِ لاَ حَکَمَ فِیْهِمَا غَیْرُکَ قُدْرَتُکَ فِی الْاَرْضِ کَقُدْرَتِکَ فِی السَّمَاءِ وَ سُلْطَانُکَ فِی الْاَرْضِ کَسُلْطَانِکَ فِی السَّمَآءِ، اَسْئَلُکَ بِاَسْمَآئِکَ الْکِرَامِ اِنَّکَ عَلَی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ

یا الله ته معبود د هغه چا یې چې آســمانونو کې دي او معبود د هغه چا یې چې په ځمکو کې دي نشته ریښتینی معبود په دواړو کې پرته له تا څخه، او ته زورور د هغه چا یې چې آسمانونو کې دي او زوراور د هغه چا یې چې په ځمکو کې دي نشــته زوراور په دواړو کې پرته له تا نه او ته بادشــاه د هغه چایې چې په آســمانونو کې دي او بادشــاه د هغه چا یې چې په ځمکو کې دي نشــته بداشــه په دواړو کې پرته له تا څخه، او ته حکم کوونکی د هغه چایې چې آســمانونو کې دي او حکم ور کوونکی د هغې چا یې چې په ځمکو کې دي نشــته حکم کوونکی په دواړو کې پرته له تا څخه، قدرت ستا په ځمکه کې په شان د قدرت ستا دی په آسمان کې، او سلطانیت ستا په ځمکه کې په شان د سلطانیت ستا دی په آسمان کې، زه سوال کوم له تا نه په خاطر د نومونو عزتمندو ستا، بېشکه ته په هر شي قادر یې.

الله تعالی په عیسی(ع) انجیل شریف نازل کړی دی، له انجیل شریف نه وروسته په داؤد(ع) زبور شریف نازل شوی دی، لیکن په زبور کې احکام نه وو بلکه په دې کې صرف تسبیح، تحمید او تقدیس او وعظ مواعظ او وعد

(c) ketabton.com: The Digital Library

وعید وو، په احکامو کې تورات شریف با ندې عمل کېده د انجیل په نازلېدو په بعضو احکامو کې ضرور تبدیلي راغلې ده، د موسی علیه السلام نه تر عیسی(ع) پورې یو زر نهه سوه پنځه اویا کاله تېر شوي وو، د بني اسرائیلو لومړی پیغمبر په دوی کې یوسف علیه السلام او آخري پیغمبر یې حضرت عیسی(ع) وو.

د حضرت عیسی(ع) د بعثت او نبوت په وخت کې د حکمت او طب ډېر رواج وو، له دې وجې الله تعالی عیسی(ع) ته داسې معجزې ورکړې چې په حکیمانو او طبیبانو کې هېچا د هغې مقابله نه شوه کولی، عیسی(ع) به د ښاپیرک تصور (شکل) جوړ کړاو په دې به یې چُف کړ هغه به ژوندی شو له هغه ځایه به والوت چې د خلکو د نظر نه به غائب شو، بیا به په حکم د الله تعالی بې ساجوسه راپېړوته، عارضی ړوند او مادرزد دواړ قسمه به یې په مسح او په دُعا په حکم د الله تعالی جوړول. تفسیر جلالین کې وایي چې په آیت کریمه کې تخصیص دَاَکۡمَهٗ (یعنې مادرزاد ړوند) او اَبۡرَصٗ (یعنې جرګې مرض والا) ځکه شوی دی چې حکیمان د دې دواړو مرضونو د علاج کولو څخه عاجزان دي او عیسی(ع) به په معجزه دواړه قسمه مریضان به د الله تعالی په حکم سره جوړول.

د حضرت موسی علیه السلام د بعثت په زمانه کې د سحر ډېر رواج وه، نو الله پاک ده ته د عصا (امسا) او ید بیضاء (سپین لاس) معجزې ورکړې چې ساحران د دې دواړو معجزو د مقابلې کولو نه عاجز وو، همدا ډول د سرور عالم حضرت محمد مصطفی(ص) د بعثت په زمانه کې د فصاحت

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلاغت ډېر زور وه، نو الله پاک خپل حبیب(ص) ته په کامل بلاغت او فصاحت موصوف کتاب قرآن حکیم ورکړ، چې عربو ټول فصیحان او بلیغان د هغې د مقابلې نه عاجز شول.

د حضرت عیسی علیه السلام په دُعا ژوندي شوي کسان:

(۱) عازر نومي یو سړی چې د حضرت عیسی علیه السلام دوست وه، دی د عیسی علیه السلام په دعا سره ژوندی شوی وه، عازر د عیسی علیه السلام نه د درې ورځو د مزل په فاصله کې لرې وه، عازر چې ناروغه شو نو خوریې عیسی علیه السلام ته خبر ورولیږه عیسی علیه السلام د عازر صاحب د ملاقات په اراده راروان شو چې د عازر کلي ته را ورسېد نو خبر شو چې هغه وفات شوی دی، عیسی علیه السلام د عازر قبر ته تشریف یو وړ، اسم اعظم یې ولوسته او د الله تعالی په جناب کې یې د عازر د ژوندي کېدو سوال وکړ، عازر په حکم د الله تعالی ژوندی شو، عازر صاحب له دې وروسته تر ډېره ژوندی وه او د ژوندي کېدو نه وروسته الله پاک ده ته اولاد هم ورکړ.

(۲) د یوې بوډۍ زوی هم الله د عیسی علیه السلام په دعا سره ژوندی کړی دی، د بوډۍ زوی وفات شوی وه، جنازه یې د خلکو په اوږو وه، جنازه په عیسی علیه السلام تېرېدله، عیسی علیه السلام د بوډۍ زوی ژوندي کېدو لپاره د الله تعالی په جناب کې سوال وکړ، الله پاک یې سوال قبول کړ، د بوډۍ زوی د الله تعالی په حکم سره ژوندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شــو، کټ کې کېناســت بیا یې جامې واغوســتې او خپل کور او اهل ته راغی.

(۳) لور د عاشر هم د حضرت عیسی علیه السلامپه دعا ژوندۍ شوې ده.

(۴) سام زوی د نوح علیه السلام د عیسی علیه السلام په دعا سره ژوندی شوی وه، د سام د وفات کېدو څلور زر کاله تېر شوي وو، سام بن نوح علیه السلام چې ژوندی شو، نو پورته شو، نیمه حصه سر یې سپین شوی وه، د عیسی علیه السلام په نبوت یې شهادت وکړ عیسی علیه السلام سام بن نوح علیه السلام ته ارشاد وکړ، ویې ویل: اې سامه ته بیا په حکم د الله تعالی وفات کېږې؟ ســام بن نوح علیه الســلام وویل په بیا وفات کېدو خوشــاله یم خو ته الله پاک ته ســوال وکړه چې د ساه وتلو تکلیف او سختي په ما باندې را نشـي، عیسـی علیه السـلام ارشـاد وکړ چې الله پاک به انشـاء الله په تا د ځنکدن سـختي نه راولي، په حکم د الله پاک به بې تکلیفه وفات شې، سام بن نوح علیه السـلامد عیسـی علیه السـلام د نبوت تصدیق وکړ، او بیا الله پاک بې تکلیفه وفات کړ.

## حضرت عیسی علیه السلام او د قیامت ورځ:

په سورة مایده کې د حضرت عیسی علیه السلام د مختلفو حالاتو تذکره شــوې ده، بیا آخري ســورة هم د هغه پر تذکره باندې ختم شــوی دی، په دغه مقام کې الله تعالی اول د قیامت د هغې واقعې نقشــه بیان کړې دی چې کله د انبیاء علیهم الســلام څخه د هغوی د امتونو په باره کې ســوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشي او هغوی په انتهايي ادب سره د خپلې بې علمۍ اظهار وکړي، او عرض به وکړي چې اې پروردګاره! نن ورځ تا د دې لپاره مقرره کړې ده چې په هره معامله کې د امور او پيش نظر فيصله واورل شي، او همدارنګه موږ خو صرف پر ظواهرو باندې حکم لګولای شو، او د زړونو او حقايقو په سلسله کې پوهېدونکی له تا څخه بل هېڅوک نشته، ته په پټو خبرو باندې پوه يې د دې وجې څخه ته په هر څه باندې ښه پوهېږې.

ژباړه: هغه ورځ (قابل د ذکر ده) چې کله به الله تعالی پيغمبران را جمع کړي، بيا ورته ووايي (د خپلو خپلو امتونو د طرف څخه) چې څه ځواب درته راغی؟ هغوی (پيغمبران) به ووايي (ستا د علم په مقابل کې) موږ ته هېڅ علم نشته.

په پورته آياتونو کې د حضرت عيسی عليه السلام د ځواب بيان دی د هغه د بيان حصه د انبياء عليهم السلام د ځواب سره مطابقت لري.

ژباړه: او (هغه وخت هم قابل د ذکر دی) چې کله الله تعالی حضرت عيسی عليه السلام ته وفرمايل چې آيا تا خلکو (بني اسرائيلو) ته ويلي وو چې ما او زما مور دواړه د الله تعالی څخه ما پرته په خدايۍ سره ونيسي؟ عيسی عليه السلام به وفرمايل چې ته پاک يې ما ته څنګه ممکن وو چې ما به هغه خبره کړې وي، چې هغه د ويلو لايقه نه وي، که چېرې ما دغه خبره دوی ته کړې وي نو يقيناً ستا په علم کې به وي (ځکه چې) ته هغه ټول شيان پېژني چې کوم زما په زړه کې دی او زه ستا پر پټو شيانو باندې علم نه سم پيدا کولای، بېشکه ته علام الغيوب يې، ما د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې څخه پرته کومه چې تا ما ته د هغې حکم کړی وه بله خبره نه ده کړې، هغه دا ده چې صرف د یوه الله تعالی عبادت وکړئ چې زما او ستاسو رب دی او زه پر هغوی باندې د هغه پورې ګواه یم تر څو چې زه په هغوی کې موجود وم، نو څه وخت په تازه قبض کړم، نو بیا صرف ته پر هغوی باندې محافظ وې، او ته پر هر شي باندې ګواه یې که چیرې ته دوی ټولو ته عذاب ورکړې، نو صرف هم ته غالب او حکمت والا یې.

حضرت عیسی علیه السلام چې کله خپل دا ځواب ورکړی نو بیا الله تعالی دا ارشاد فرمایي:

ژباړه: الله تعالی به وفرمایي چې دا داسې ورځ ده چې ریښتینو خلکو نه به د هغوی رښتیا ویل فایده ورکړي، ددوی لپاره جنتونه دي چې د هغو تر راختو لاندې به ویالې بهیږي او هغو کې به دوی همېشه همېشه اوسیږي، او دوی به د الله تعالی څخه راضي وي او الله تعالی بــــــه د دوی څخه راضي وی، دا لویه کامیابي ده.

د حضرت عیسی علیه السلام ځواب د یوه جلیل القدر پیغمبر د لوی شان عین مطابق دی اول خو به هغه د رب العزت په دربار کې معذرت خواه وي، چې دا څنګه کېدلای شي چې ما داسې نا مناسبه خبره کړې وي. چې هغه بالکل د حق خلاف ده (سبحنک ما یکون لی ان اقول ما لیس لی بحق) اول خو به د ادب په طور باندې د الله تعالی د علم حقیقي په وړاندې خپل علم کم او د بې علمی برابر یې ښکاره کړي. (اِن کُنتُ قُلتُهُ فَقَد عَلِمتَهُ تَعلَمُ مَا فِی نفسی و لا اَعلَمُ ما فی نفسک انک انتَ علام الغیوب) او د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه وروسته به د خپلو فرايضو د پوره کولو حال بيان کړی او عرضه به وکړي چې (ما قلتُ لهم الا ما امرتنی به ان اعبد و الله ربی و ربکم) او بيا امت د دې دعوت حق څه ځواب ور کړي، د دې متعلق د ظاهري امورو د شهادت به هم په هغه طريقه سره ذکر وکړي چې په هغه کې به دده شاهدي د الله تعالی د شهادت به مقابله کې بې حيثيته په نظر راشي (وکنت عليهم شهيداً ما دمت فيهم فلما توفيتنی کنتَ انتَ الرقيب عليهم و انتَ علی کل شئ شهيد).

او د هغه وروسته به با وجود علم چې په امت کې مؤمنان عاجزی کونکی هم وي او منکرين جاحدين هم د عذاب واقع کېدو او د مغفرت د طلب کولو به هم په هغه انداز کې ذکر وکړي چې په هغه سره يوه طرفته د الله تعالی د مقرر کړل شوی د عمل جزا د قانون خلاف ورځي هم ظاهره نه شي، او بل طرفته د امت سره شفقت او د رحمت د جذبې چې کومه تقاضا ده هغه هم پوره شي. (ان تعذ بهم فا نهم عبادک و ان تغفر لهم فانک انت العزيز الحکيم).

کله چې حضرت عيسی عليه السلام عرض دا شت يا د ځواب مضمون ختم کړئ نو رب العلمين د خپل قانونِ عدل دا فيصله واوروله، د دې لپاره چې مستحق د رحمت او مغفرت نا اميده نه شي. بلکه په مسرت او خوشالی سره د هغوی زړونه روښانه شي او د عذاب مستحق غلط اميدونه قايم نه کړي: (قَالَ اللهُ هٰذَا يَوۡمُ يَنۡفَعُ الصّٰدِقِيۡنَ صِدۡقُهم).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې تفصيلاتو حاصل دا دى چې د زير بحث آياتونو سياق او سباق دا وضاحت کوي چې دا واقعه به د قيامت په ورځ راپيښېږي، او د حضرت عيسى عليه السلام ملأ اعلىٰ ته د پورته خېژولو په وخت کې نه ده شوې.

## د عيسى عليه السلام ديني دعوت او د يهودو تکذيب:

يهودو د عيسى عليه السلام ډېرې هغه خبرې دروغ و ګڼلې چې ددوی په خيالونو کې ځای پر ځای وې او د هغو په اړه يې له تجاوز څخه کار اخيستړ دې يهودانو د الله(ج) حلال شيان حرام او حرام شيان حلال و ګڼل. عيسى عليه السلام هغوی يې له خدای جل جلاله سره داسې مينې ته رابلل چې پر هرې مينې غالبه وي. عيسى عليه السلام هغوی انساني عاطفي، بشري احترام، له بې وزلانو سره مرستې او خواخوږۍ ته رابلل هغوی ته يې يوازې او يوازې د توحيد بلنه ورکوله، هغوی ته يــــې وويل چې د انبياؤ په سپېڅلې تګلاره کې چې کومې ناسمې او ناولې خبرې ننوتې دي هغه پرېږدئ.

## يهودان له عيسى عليه السلام سره جګړې ته چمتو شول:

دا ټول شيان يهودانو ته سخت شول هغوی له عيسى عليه سلام سره جګړې ته تيارى ونيوه هغوی پر عيسى عليه السلام ګوزار وکړ، پر هغه يې تورونه او تهمتونه ولګول، هغه ته يې په ناوړه خبرو او کنځلو پيل وکړه، د هغه پاک لمنې مريم عليه السلام يې د زنا، تهمت، طعن او تشنيع نښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګرزوله، له هغه سره یې ښرګند مخالفت وکړ د هغه پر ضد یې بد ماشان راوپارول او د هغه لارې یې و تړلې.

## په قران کریم کې د عیسی علیه السلام کیسه:

وروســته هغوی د عیســــــــی علیه السـلام د وژلو او له هغه څخه د ځان خلاصـولو پریکړه وکړه نو الله^(ج) هغه وژغوره او د هغوی تدبیر یې پردوی وروګرځوه. عیسـی علیه السـلام یې خپلې خواته ور پورته کړاو هغه ته یې عزت ورکړ.

په قرآن کریم کې د هغه کیسه ولولئ.

ژباړه: هـــغـــه وخت دریاد کړئ چې کله ملائکو وویل: اې مریمې! بې شکه الله^(ج) تاته د یوې کلمې زیری درکوي چې د الله^(ج) له لوري به وي نوم به یې مسیح بن مریم وي چې په دنیا او اخرت کې به سر لوړي وي د الله^(ج) له نږدې بندګانو څخه به وي هغه به له خلکو سره په زانګو کې هم او په لوی عمر کې هم خبرې کوي، دا به یو صالح انسان وي. ددې په اوریدلو مریم^(رض) وویل: اې زما ربه! څرنګه به زما اولاد پیداشي؟ ماته خو هیڅ سړي لاس نه دی راوړی ځواب ورکول شو همداسې به کیږي. الله^(ج) چې څه غواړي پیدا کوي یې هغه چې کله دیو کار اراده وکړي نو ورته وایي چې موجود شه! هغه موجود شي. الله^(ج) به هغه ته کتاب او د هوښیارتیا خبرې وروښیي. د تورات او انجیل پوهه به ورکړي، د ټولو بني اسرائیلو ته به یې د خپل استازي په توګه ولیږي بیا چې کله هغه بني اسرائیلو د رسول په

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه راغلی نو و یې ویل: زه تاسو ته د خپل رب له لوري له دلائلو سره راغلی یم هغه دا چې ستاسو لپاره د خټې د مرغه شکل جوړوم ساه پکې اچوم هغه به د الله^(ج) په امر مرغه شي، زه د الله^(ج) په امر مور زاده ړوند او فیس وهلی مریض روغ کوم، زه تاسو ته هغه څه درښیم چې تاسو خوړلي وي او یا مو په کورکې جمع کړي وي بې شکه په دې کې زما د نبوت لپاره کافي نښې دي که تاسو ایمان راوړل غواړئ او زه د هغه کتاب تصدیق کوم چې تر ما وړاندې وو یعنې تورات. ددې لپاره راغلی یم چې تاسو ته هغه شیان حلال کړم کوم چې در باندې حرام کړل شوي وو او وګورئ! زه ستاسو د رب له لوري تاسو ته رنبوت له دلیل سره راغلی یم ځکه نو له خدایه ووېرېږئ، زما خبره واورئ یقیناً الله^(ج) زما او ستاسو دواړو رب دی، تاسو د هغه بندګي غوره کړئ همدا نېغه لاره ده. کله چې عیسی علیه السلام د هغوی له خوا انکار احساس کړ نو ویې ویل: څوک د الله^(ج) په لاره کې زما مرستندوی دی؟ حواریونو وویل: موږ د الله^(ج) ددین مرستندویان یو ، موږ پر الله^(ج) ایمان راوړی ته شاهد اوسه موږ مسلمان یو ، اې رموږ ربه! موږ پر هغو شیانو ایمان راوړی چې تا نازل کړي او د رسول^(ص) پیروان یو نو ته زموږ نومونه په شاهدي ورکوونکیو کې ولیکه، دغو خلکو د عیسی علیه السلام پر خلاف پټ پلان جوړ کړ خو الله^(ج) هم خپل پټ تدبیر عملي کړ او الله^(ج) تر ټولو ښه تدبیر کوونکی دی. کله چې الله^(ج) وویل: زه تا پورته کوم او خپل لور ته دې راپورته کوم، د هغه خلکو له له ملګرتیا او ناولي چاپیریال څخه به دې پاک کړم چې منکرین دي کوم څوک چې ستا امر مني هغوی به پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

منکرینو تر قیامته غالب و ساتم بیا به ټول زما لوري ته راځي هغه وخت به زه د هغو خبرو پریکړه وکړم چې ستاسو تر منځورباندې اختلاف دی د پریکړې تفصیل دا دی چې کوم د کفر او انکار لاره غوره کړي هغوی به په دنیا او اخرت دواړو کې سزا ووینې هیڅ مرستندوی به پیدا نه کړي او کوم خلک چې ایمان راوړي نیک اعمال غوره کړي او پوره پوره اجر ورکول شي او ښه پوه شئ چې الله^(ج) له ظالمانو سره هیڅ مینه نه کوي موږ تاسو ته همداسې له حکمت ډک آیتونه اوره وو بې شکه د الله^(ج) په نزد د عیسی علیه السلام مثال د آدم علیه السلام په څېر دی. الله جل جلاله هغه له خټې پیدا کړ او امر یې و کړ چې موجود شه! نو هغه موجود شو. دا هغه حقیقت دی چې ستاسو پروردګار تاسو ته بیان کړی دی او د هغو خلکو له ډلې څخه مه کېږئ چې په دې کې شک کوي. (آل عمران: ۴۵، ۶۰)

## په قران کریم کې د عیسی علیه السلام اخلاق او بلنه:

په قران کریم کې چې د هغه کوم اخلاق او دعوتي وصف بیان شوی دی هغه ولولئ!

ژباړه: هغه ماشوم عیسی علیه السلام وویل: زه د الله^(ج) بنده یم هغه ما ته کتاب انجیل راکړ او نبي کړی یې یم، زه یې برکتمن ګرزولی یم او چې هر ځای او سم ماته یې د لمانځه او روژې امر کړی دی تر څو چې په دنیا کې ژوندی یم د خپلې مور خادم یې ګرزولی یم، هغه زه سرکښ او بدبخته نه یم پیدا کړی، پر ما د الله^(ج) له لوري په هغه ورځ سلام دی چې زه پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـوم، پـه هغـه ورځ چې مړ شـم او پـه هغـه ورځ چې د قيـامت پـه ورځ راپاڅيږم. (مريم: ۳۰، ۳۲)

## پخوانۍ دښمني:

عيسى عليه السلام هم له هغه څه سره مخ شو چې نور انبياء كرام عليهم السلام ورسره مخ شوي وو. قومي مشران او سرداران ور څخه لرې شول، شتمنو او ځواكمنو پرېښود، د هغه پيروي او اتباع يې شرم وګڼله هغوى چې د سردارۍ، مشرتوب ځانګړې حيثيت كوم مقام ته رسيدلي وو له هغوى څخه راكښته كېدل ورتـه ګران وو الله(ج) رښتيا ويلي:

ژباړه: موږ هيڅ كلي ته كوم وېروونكى (رسول) نه دى لېږلى مګر د هغه ځاى ښه ژوندون درلودونكو خلكو ويلي دي موږ خو ستا هغه احكام نه منو چې تا راوړي دي او هغوى دا هم ويلي دي چې موږ زيات مال او اولاد لرو ځكه نو سزا راكول كېږي. (السبأ: ۴۳، ۳۵)

## د عامو وګړو او بې وزلانو ايمان:

كله چې عيسى عليه السلام له هغوى څخه ناهيلي شو په هغوى كې يې غرور او سركشي ولـــيده او ده وليدل چې دا خلك له هغو ټولو څخه انكار كوي چې ده د څرګندو نښو او روښانه معجزو په توګه راوړي دي چې د دوى زړونو هم ورباندې يقين كړى دى هغوى عيسى عليه السلام تېټ و ګاڼه ځكه ده نه شتمني لرله او نه طاقت نو عيـــسى عليه السلام د عامو وګړو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

فقیرانو او مسکینانو لور ته توجو وکړه. د هغوی زړونه نرم شوم او په طبعیت کې یې میلان پیدا شو ځکه چې هغوی په خپلو خولو او لاسونو روزي ګټله هغوی د کورنۍ په اعتبار پر یو بل فخر نه کاوه نه یې له یو بل سره د منصف ترلاسه کولو لپاره منډې وهلې په هغوی کې چې کومو خلکو ایمان راوړ ځینې یې دوبیان، دماهیانو ښکار کوونکي، قصبان او مزدوري کوونکي وو.

مونږ د الله(ج) مرستندویان یو:

هغوی پر عیسی علیه السلام ایمان راوړ د هغه پر شاوخوا را غونډ شول، خپل لاس یې د هغه په لاس کې ورکړ او ویې ویل:

مونږ د الله(ج) مرستندویان یو الله(ج) وایي:

ژباړه: کله چې عیسی علیه السلام په دې پوه شو چې بني اسرائیل کفر او انکار ته تیار دي نو هغه وویل: څوک د الله جل جلاله په لاره کې له ما سره مرسته کوي؟ حواریونو وویل: مونږ د الله(ج) مرستندویان یو. پر هغه مو ایمان راوړی، ته شاهد اوسه چې مونږ مسلمانان یو. اې الله! مونږ پر هغو احکامو ایمان راوړی چې تا نازل کړي دي او د رسول پیروي مو خپله کړې ده نو رمونږنوم د تصدیق کوونکیو په فهرست کې ولیکه. (آل عمران: ۵۲، ۵۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د عیسی (ع) سفراو دعوت:

عیسی علیه السلام ډېر وخت په سفراو له یوه ځای څخه بل ځای ته په تلو کې تېراوه. بني اسرئیلو یې د الله (ج) لور ته دعوتول، دهغوی ورکې قافلې یې د خپل بادار او رب لور ته وربللې. عیسی علیه السلام په دې ګرزېدونکو او سفري پروګرامو کې له اسانۍ، تکلیف، تنګ، لاسۍ او خوشالۍ سره مخ کېده هغه دا ټول په ډېر زغم سره منل، دا حلات یې په شکر سره قبلول، هغه لوږه زغمله او پر دومره څه یې بسنه کوله چې ورباندې ژوندي به وو.

## حواریونو د اسماني دسترخوان غوښتنه وکړه:

حواریون په صبر، زغم، کړاو، مشقت، تنګ لاسۍ او زهد په اعتبار د عیسی علیه السلام درجې ته نه وو رسیدلي هغوی له عیسی علیه السلام څخه غوښتنه وکړه چې دی له الله (ج) وغواړي ترڅو دهغوی لپاره له اسمانه د سترخوان نازل کړي چې دوی ور څخه خوراک وکړي او تر لوږې وروسته پرې مـــاړه شي، تر تکلیف وروسته ارام او نعمت تر لاسه کړي.

## بې ادبي:

هغوی په خپله غوښتنه کې د ادب او احترام طریقه غوره نه کړه بلکه هغوی وویل: ایا ستا رب دا ځواک لري چې پر موږ له اسمان څخه دسترخوان نازل کړي؟ عیسی علیه السلام ته دا پوښتنه ښه معلومه نه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د هغوی هغه لهجه يې خوښه نه شوه چې ده ته يې خطاب پرې کاوه ټول انبياء کرام له خپلو امتيانو څخه د بالغيب ايمان غوښتنه کوي او په همدې خبره يې مکلفوي. معجزې خو د لوبو سامان نه دی چې ماشومان پرې خوشاله کړای شي او هغو ته تسلي ورکول شي چې په وسيله يې ناپوهان په لوبو او بازيو بوختيږي بلکه هغه د الله(ج) د قدرت نښانې دي چې له خپلې ارادې سره سم يې د انبياء کرامو عليهم السلام پر لاسونو څرګندوي. د همدې معجزو په سبب پر بندګانو حاجت قائميږي او د معجزاتو تر ظهور او انکار وروسته بيا فرصت نه وي.

## له ناوړه بر خليکه د خپل قوم وېرول:

له همدې وجې عيسى عليه السلام د خپل قوم په اړه انېښمن شو او هغوی يې له ناوړه بر خليک څخه ووېرول د الله(ج) له لوري يې په ازمويښت له اخته کېدلو څخه منع کړل ورته و يې ويل چې هغه ډېر لوړ او ستر قدرت درلودونکی ذات دی.

## د هغوی ټينګار او غوښتنه:

خو حوارين پر خپله غوښتنه کلک و درېدل هغوی وويل د دوی په دې سوال کې ښه فکر کړی دی، دوی د ازموينې اراده نه لري يوازې د زړه اطمنان غواړي تر څو د راتلونکو نسلونو لپاره يو يادګار شي او داسې داستان شي چې د ډېر وخت تر تېريدلو وروسته هم بيانيږي دا به ددې دين د رښتنوالی، د حواريونو د صداقت او د لومړنيو مؤمنانو د قدر او مرتبې دليل وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قران کريم کيسه کوي:

### قران کريم دا کيسه په دې ټکو کې بيانوي:

ژباړه: کله چې حوارينو وويل: اې عيسى د مريمې زويه! ايا ستا رب پر موږ له آسمان څخه د خوراک يو دسترخوان نازلولی شي؟ عيسى عليه السلام وويل: له الله(ج) څخه ووېرېږئ! که ايمان لرئ!. هغوی وويل: موږ صرف دا غواړو چې له هغه څخه خوراک وکړو او زړه مو ډاډه شي.

دا راته څرګنده شي چې تا موږ ته رښتيا ويلي او موږ ور باندې شاهدان شول. عيسى عليه السلام وويل: اې الله! اې زموږ ربه! پر موږ له اسمان څخه د سترخوان نازل کړه چې زموږ د وروستنيو او لومړنيو لپاره د خوښۍ سبب دی، ستا له لوري يوه نښه وي، موږ ته رزق راکړه او ته ښه رزق ورکوونکی يې، الله(ج) وويل: زه هغه هغه خوراک پر تاسو نازلوم خو تر دې وروسته که کوم څوک ددې نعمت ناشکري وکړي نو زه به هغه ته داسې سزا ورکړم چې په نړيوالو کې مې هيچاته نه وي ورکړې. (المائده : ۱۱۲، ۱۱۵)

### يهودان له عيسى عليه السلام څخه د ځان خلاصولو پرېکړه کوي:

د يهودانو غم ختم شو، د عدوات او دښمنۍ کاسه يې په ډکېدو شوه هغوی له عيسى عليه السلام څخه د ځان خلاصولو پرېکړه وکړه دا قضيه يې خپل رومي حکمران ته وړاندې کړه هغه وويل: دا يو شرير او وران کاره سړی دی چې زموږ دين له دايرې څخه وتلی دی زموږ ځوانان يې په والکه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیستي او پرده باندې عاشقان شوي دي، زموږ چارې یې ګډې وډې کړې دي او زموږ هوښیاران یې تېر ویستلي دي.

د کسات اخیستونکو او سیاست پوهانو تګلاره:

هغه د موجوده نظام لپاره خطر ګرځیدلی، هغه د هیڅ حکومت تابع نه دی او نه د کوم قانون پابند دی، نه د کوم مشر درناوی کوي او نه د لرغونو شیانو تقدس مني هغه باغي دی که د هغه د شر مخه ونه نیول شي نو لوی ورانی به رامنځ ته کړي، د اور بلولو لپاره یوه سکروټه هم کفایت کوي.

مکر او دسیسې:

د هـــغــوی خبرې له مکر، فریب او دسیسو څخه ډکې وې، ددوی په خبرو اترو کې سیاسي رنګ وه هغوی پوهېدل چې دیني اړخ واکمن نه راپاروي او نه غوسه ورځي د هغوی تګلاره دا وه چې یهود په دیني معلوماتو کې لاسوهنه ونه کړي ځکه نو هغوی دې قضیې ته سیاسي رنګ ورکړ.

یوه ستونزه:

د پردیو واکمنو لپاره د یوې خبرې تل ته ځان رسول سخت وو چې تر څو هغوی له عیسی علیه السلام سره د یهودو په دښمنۍ او اعتراضوو پوهېږي، هغوی په خپلو انتظامي چارو بوخت وو خو د یهودو تېنګار مخ پر زیاتیدو او د هغوی تردد اوږد شو نو هغوی په خپله ددې معاملې د هغې خبرې د تصفیه کولو پرېکړه وکړه چې په سیمه کې مشهوره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عیسی (ع) په محکمه کې:

د جمعې ورځ وه تر مازدیگر وروسته د شنبې مازدیگر وو، یهودو دوه هفتې په ورځ کار هم نه کاوه هغه د رحصتۍ او هغه د هیڅ کار د نه کولو ورځ وه دوی دې ته ډېر په تلوسه کې وو چې د جمعې د ورځې تر لمر لویدلو وړاندې حکم صادر شي او دوی د عیسی علیه السلام له لانجې څخه خلاص شي تر څو دوی و کولای شي په ډاډه من زړه ویده شي او په سهار کېدلو دوی له هر غم څخه خلاص وي.

د وخــــت حاکم په دې معامله کې ډېر تنګ شوي وو له ده سره یې هیڅ تړاو نه درلود او نه یې په دې کې د اولس لپاره را غونډ شول، کومه ګټه وه. یهودان د حکم اوریدلو لپاره راغونډ شول، منډې ترړې یې وهلې، هلته د لته یې ځغستل او غوغا یې جوړه کړي وه. د وخت حاکم تنګ شوی وو، وخت لنډ وه لمر په لویدو وه هغه د عیسی علیه السلام د اعدام کولو پرېکړه واوروله، د هغه وخت له پوځي قانون سره ضروري وه چې د کوم چا په اړه د اعدام امر شوی وي هغه ته حتمي وه چې خپل صلیب یې په خپله پورته کړی وای. د اعدام د اعدامولو سیمه لرې وه لکه په متمدینو هیوادونو کې چې رواج دی غونډه ډېره لویه وه خلک یو پر بل لویږل، د پولیسو مامورین ډېر پردي کسان وو دا دنده ورته سپارل شوي وه هغوی له دې قضیې سره هیڅ دلچسپي نه لرله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسرایلیان ددوی په اند سره ورته وو، دوی په دې چاره کې لالهانده او سمه پرېکړه یې نه شوای کولای لکه د پردیو په نظر کې چې حالت همداسې وي. د ماښام وخت وو، تیاره غوړېدلې وه ځینې یهودان او بې عقله ځوانان پر عیسی علیه السلام راټول وو، هغه ته یې سپکې سپورې ویلې، پېغورونه یې ورکول، او دهغه په کړولو او زورولو بوخت وو.

## عیسی(ع) تکلیفونه زغمي:

عیسی علیه السلام ډېر ستړی شوی وو، د مشقتونو له کبله ډېر ځوریدلی وه. په محکمه کې ډېرې ولاړې او تکلیف زغمل هغه نور هم ستړی کړی وه. صلیب دروند وه دوی یې عیسی علیه السلام په وړلو مکلف ګرځولی وو، هغه په بیړه نه شو تللی.

## الهي تدبیر:

د لته یو پولیس اسریلي ځوان ته امر وکړ چې لرګی راوړي دا ځوان په خپلو ټولو ملګرو کې زیات غیرتمن او ډېر ناپوه وو عیسی علیه السلام ته په تکلیف رسولو کې ډېر حرص او ددې کار په سرته رسولو کې بیړه کوونکی وه تر ټو دا معامله ژر تر ژره پای ته ورسېږي او هغه له دې تباه کوونکي ماموریت څخه خلاص شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خو هغوی تېرایستل شول:

خوپه دې ډول سپاره محکمې دروازې ته راورسیدل، اعدام کوونکي پولیس راوړاندې شول او دا چاره یې د ښاري پولیسو له لاسه په خپله ولکه کې واخیسته او هغوی یو ځوان ولید چې صلیب یې په غاړه وه شور او زوږ جوړ شو، نارې او ګډوډې رامنځته شوه، پولیسو د صلیب پورته کوونکي ځوان لاس ونیو، هغوی ددې ځوان په اعدامولو کې هیڅ شک نه درلود هغه نارې وهلې او د خپل ځان بې ګناه ښودلو هڅه کوله چې له دې پرېکړې او اعدام سره هیڅ تړاو نشته. بلکه د تېوکو او ظلم له کبله په اعدام محکوم شوی دی خو سپاهیانو د هغه د فریاد او نارو لورته هیڅ توجه نه کوله نه یې په ژبه پوهېدل ځکه چې هغوی د یونان او روم د حکومتونو کسان وو چې هغه وخت یې په دې سیمه کې حکومت کاوه.

## د پرېکړې تعمیل:

هر مجرم خپل ځان له جرم څخه پاک ګڼي او هر مجرم نارې وهي. هغوی هغه ځوان ونیو او اعدام یې کړ یهودان لرې ولاړوو او نړۍ د توري شپې په څېر تیاره وه هغوی په دې باوري وو چې څوک اعدام شوی دی هغه عیسی علیه السلام دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د آسمان لورته د عیسی (ع) پورته کېدل:

ترکومه ځایه چې عیسی علیه السلام پورې تړلي ده هغه الله جل جلاله د یهودانو له د سیسو او سازشونو خوندي خپل ځان وژغوره، هغه یې په درناوي او د کافرانو له شر څخه خوندي خپل لورته پورته کړ.

## قرآن کریم کیسه کوي:

دا د الله (ج) فرمان دی او د یهودانو په اړه دی (د بني اسرائیلو پر زړونو ټاپه لګېدلې او هغوی ته عذاب ورکول شوی) له دې کبله چې هغوی کفر کړئ، پر مریم علیه السلام یې ناحقه تور پورې کړی او دا یې ویلي دي چې موږ عیسی علیه السلام وژلی دی کوم چې د الله (ج) رسول دی حال دا چې نه هغوی وژلی دی او نه یې په دار کړی دی بلکه دوی تېروتلي دي، کومو خلکو چې د ده په اړه اختلاف کړی هغوی هم په اصل کې په شک اخته دي، هغوی په دې اړه هېڅ علم نه لري مګر یوازې اټکلونه کوي، هغوی یعقیناً عیسی بن مریم وژلی نه دی بلکه الله (ج) خپل لورته پورته کړ الله (ج) پیاوړی او د حکمت څښتن دی. (النساء: ۱۵۶، ۱۵۸)

عیسی علیه السلام په آسمان کې دی لکه الله (ج) چې اراده کړې هغه پر هر څه قادر دی د عیسی علیه السلام پیدایښت هم حیرانوونکی دی د هغه ژوند هم عجیب او نادر دی له سره تر پایه یې ټوله چاره عجیبه ده، هغه یوه معجزه او د الهي قدرت ثابتوونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قيامت ته نږدې د عيسى (ع) را ښکته کېدل:

کله چې الله (ج) وغواړي نو هغه به هرومروبه له اسمان څخه راکښته شي د هغه چاپرخلاف به ليل شي چي دده په اړه يې دافراط اوتفريط لاره غوره کړې دحق ملا تړبه وکړي دبا طل پيروان به له منځه يو سي لکه رسو ل اکرم صلى الله عليه وسلم چي يې وړاندوينه کړې وه. د هغه په اړه صحيح اومتو اتر احاديث راغلي او په هر وحت کي يې مسلما نا نو دراتلو لا ځا رلي ده الله (ج) رښتيا ويلي دي:

ژباړه: په اهل کتابوکي هيڅوک دا سي نه دی چي تر مرګ وړاندي پرهغه ايمان رانه وړي اود قيا مت په ورځ به هغه پر دوی شا هدوي. (النساء: ۱۵۹)

### درسول اکرم (ص) دراتللو زېرى:

عيسى عليه السلام دخپل دعوت اوارشـادکمپا ين د يهو دانو له سخت مخالفت دهغوی د دسيسو خپلی کمزوری اوملا تړودليږوالي له کبله پوره نه کړای شو هغه له خلکو سره مخه ښه وکړه اودخپل رب په امرولاړ. هغه خلکو ته د يو رسول زېری ورکړ چي تر ده ورو سته به راځي او هغه چاره به سرته رسو ي چي ده پيل کړې وه ، هغه رسول به دا دعوت عام کړي کوم چي عيسى عليه السلام ځا نګړی کړی ووااود هغه په وسيله به پر خلکو دليل تام شي الله (ج) په دې اړه وايي :ژباره: اوهغه وخت دريا دکړه چي کله عيسى بن مريم وويل :اې بنی اسرا ئيلو! زه تا سو ته دالله ج له لوري را ليږل شو ی يم تر ماوړاند ي تورات راغلی دی زه دهغه رالېږل شوی يم تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماوړاندې تورات راغلی دی زه دهغه تصدیق کوم اوزیری درکوم چې ترما وروسته به یورسول راشي نوم به یې احمد وي. (الصف: ۶)

## له ګډې وډې عقیدې نه د صرف توحید لور ته:

د ادیا نو تاریخ له عجیبواو حیرانوونکو خبر وڅخه ډک چې پر هغو ستر ګې او ښکې بهوي اوزړه پرې ویلیږي هغه دا چې د عیسی علیه السلامهغه دعوت کوم چې خالص توحید اسا نه غوره دین ولاړوو، له هرډول پیچومو تبدیلي او تا ویل څخه پا ک وو یوازې دیوه خدای (ج) عبادت یې کاوه له هغه څخه یې غو ښتنه کوله او یوازې له هغه سره یې مینه کوله هغه په پیچلي عقیده او ناڅرګند ه فلسفه بد ل شو پیروانو یې په هغه کې ډېره مبا لغه وکړه عیسی علیه السلامیې دومره لوړکړ چې له انسا نې حدودو څخه یې‌دحد ايي مر تبې ته ورسا وه او ویې ویل : عیسی علیه السلامدخدای زوی دی او هغه خدای زوی ګرځولی دی دایې هم ویل چې بې شکه دمریمې زوی عیسی علیه السلامخدای دی هغه یو ذات چې بې پروا دی نه له چا زیږېدلی او نه له ده څخه څوک پیدا شوي دي پر درو افرادومشتمله یوه کورنی‌وګرزوله چې په هغو کې هر یو خدای دی هغوی وویل :الله، زوی او روح القدس ټول خدایان دي . دمریم رضی الله عنها د عیسی علیه السلام مو رپه اړه یې بده عقیده خپله کړه اوله هغې سره یې داسې معا مله وکړه چې دتقدس اوعبا دت درجې ورسوله هغوی وویل: چې مریم دخدای مو رده دهغې انځورونه اوتصویرونه په کلیساووکې ډېر شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ل، د هغو په وړاند ې عيسـايان په ډېرعجز،زاريـواوتـو اضـع سـره تيتېدل ،دهغوى د عقيدې غندلو ناوړه ګڼلو سره الله (ج) وايـي :

ژبا ړه: عيسى عليه السلام يوزې يورسول وو، تـر هغه وړاند ې نور رسولان هم تېر شـوي دي دهغـه مورهم يوه ربښـتنې مسـلمانـه ميرمن وه هغوى دواړوخوراک کاوه . وګورئ! مور دهغوى په وړاندې دحقيقت نښـې څرنګه څرګندوو؟ بيا وګورئ چې هغوى کوم لورته درومي؟ تاسـو وواياسـت ايا تاسـو له يوه خداى پرته د داسـې چا عبادت کوئ چې نه تاسـو ته ضـرر رسـولاى شـي او نه ګټه خداى (ج) د هرڅه اوريدونکى او په هر څه پوه دى. (المائده: ۷۵، ۷۶)

## عيسى (ع) د يوه خداى لورتـه بلنه کوي:

عيسى عليه السلام د نورو انبياوو په څېر د يو خداى لورتـه بلنه کړي ده او د هغه فرمان په انجيل کې موجود دى د خپل رب په وړاندې سجده او يوازې د هغه عبادت کوئ. (انجيل متى: ۴، ۱۰)

د هغه فرمان داسـې ليکل شـوى دى: د خپل حقيقي معبود په وړاندې سجده او يوازې د هغه عبادت کوئ. (الوقاء ۸)

د الله(ج) وينا ده: د هيڅ کتاب کار دا نه دى چې الله تعالى هغه ته کتاب، پوهه او نبوت ورکړى او بيا خلکو ته ووايي چې د الله (ج) پر ځاى زما بنده ګان شـئ بلکه هغه به دا وايي چې تاسـو خداى پالوونکي شـئ لکه د هغه کتاب چې تاسـو يې لولئ لارښـوونه هم همداسـې ده نه دا امر کوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملائکې او پیغمبران په خپله خدایي ومنئ ایا دا ممکنه ده چې یو نبي تاسو ته په داسې حال کې چې مسلمانان یاست د کفر امر وکړي؟..
(آل عمران: ۸۰،۷۹)

## قرآن کریم د عیسی (ع) دعوت تشریح کوي:

قرآن کریم چې تر ځان د وړاندې کتابونو تصدیق او حفاظت کوي په څرګندو او واضحو ټکو کې د صرف توحید او دیني دعوت لورته د عیسی علیه السلام بلنه رانقلوي چې هیڅ زیاتونه وربانديې نه شي کېدای د الله (ج) وینا ده: ژباړه: بې شکه هغه خلک کافران شول چې عیسی علیه السلام یې خدای وګاڼه حال دا چې عیسی علیه السلام په خپله ویلي وو چې اې بني اسرائیلو تاسو د هغه الله تعلی عبادت کوئ چې زما هم خدای دی او ستاسو هم بې شکه کوم څوک چې له الله تعالی سره شریک ونیسي پر هغه جنت حرام دی، ځای یې جهنم دی او داسې ظالمان به هیڅ مرستندوی ونه لري.

## د عیسی (ع) په دعوت کې د توحید ځای:

عیسی علیه السلامپه ډېر ښکاره اوبلیغ اندازکې دا ټکی څرګند کړی وو هر هغه څوک چې د توحید له مقام ، مرتبې، د انبیاء کرامو او رسولانو له سیرت څخه خبروي د عیسی علیه السلامله دې ویناو څخه خوند اخلي او هر هغه څوک چې الله تعالی پېژني د هغه په وړاندې سجده کوي، له هغه څخه ویرېږي، د هغه له دې ټکو خوند اخیستلای شي الهي وینا ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: عیسی علیه السلام هیڅکله په دې کې شرم نه ویني چې د خدای بنده شي او نه مقربې فرشتې د خدای عبادت دځان لپاره پېغور ګڼي کوم څوک چې د خدای بندګي د ځان لپاره پېغور وګڼي او لویي وکړي نو ژر ده چې خدای به یې په ولکه کې په اخیستلو خپلې مخې ته راولي په دې وخت کې د الله هغو مؤمنانو ته چې نېکه لاره یې غوره کړې وه پوره ثواب ورکړي او د خپلې مهربانۍ له به نور احسان هم ورسره وکړي کومو خلکو چې د خدای عبادت عار ګڼلی وي او د تکبر لاره یې خپله کړې وي هغوی ته به الله تعالی درد ورکوونکی عذاب ورکړي او دا خلک به د ځان لپاره هیڅ دوست او مرستندوی ونه ویني.

## د قیامت په منظرو کې یوه زړه وړونکې ننداره:

قرآن کریم د خپل فصاحت، هنري ترکیب، ښکلو جملو او د بې حده اعجاز په هنداره کې د قیامت د منظرو یوه زړه وړونکي ننداره انځور کړې ده. عیسی علیه السلام به له هغه څه څخه بې زاري اعلان کړي چې خلکو په ده پورې تړلي او ده ته منسوب کړي وو هغه به په ډېر قوت او رښتنوالۍ سره خپل دعوت تشریح کړي او د خپل امت هغو کسانو ته چې په دې اړه یې افراط کاوه بیان وکړي او ورته وه به وایي چې په حقیقت کې دوی پوازې ددې جرم مسئولین دي. قرآن کریم ولولئ او ددې دریځ، عظمت او زړه وړونکي ننداره وګورئ الله تعالی وایي: هغه وخت هم د یادونې وړ دی چې کله الله تعالی ووایي اې عیسی بن مریمه! ایا تا خلکو ته ویلي وو چې هغه به په ځواب کې ووایي: سبحان الله! دا زما کار نه دی چې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره وکړم دکومې د وينا حق چې ما نه درلود که ما داسې خبره کړي واى نو هرو مرو وربانـدې خبر واى تـه زما د زړه پـه خبرو پوهېږې او زه ستا پـه علم هيڅ نـه پوهېږم تـه خو پـه هر څومره پټو رازونو خبرېږي ما هغوى تـه هيڅ نه دي ويلي مګر يوازې هغه څه مې ورتـه ويلي وو چې تا يې راتـه امر کړى وو ما بـه دوى تـه ويل: د الله تعالى بندګي وکړئ چې زما او ستاسـو ټولو رب دى تر څو چې زه ددوى پـه منځ کې اوسيـدم تر هغو وربانـدې خبروم خو کله چې تا راپورتـه کړم نو تـه وربانـدې خبر وې او تـاتـه د هر څه معلومات شـتـه که تـه دوى تـه سـزا ورکوې نو سـتا بـندګان دي او که يې بخښې نو تـه ډېر پياوړى او حکمت خاوند يې بيا بـه الله تعالى ووايې: دا هغه ورځ ده چې کوم خلک رښتني وو نن بـه خپله رښتنوالي پـه کار ورشي، د هغوى لپاره باغونو دي چې لاندې ترې ويالې بهېږي، دوى بـه پـه دې باغونو کې تل لپاره پاتې وي الله تعالى له دوى څخه راضـي دى او دوى له الله څخه، دا يو ستر بريا ليتوب دى پـه ځمکه او اسمانو کې يوازې د الله(ج) پاچاهي ده او هغه پـر هر څه قادر دى. (الانعام:۱۱۶،۱۲۹)

## له ګډې وډې عقيدې نه د ښکاره بت پرستۍ پر لور:

مخکې مو ولوسـتل چې الله(ج) دا شـاهدي ورکړې ده چې عيسـى(ع) پـانسـي شـوى نه دى وختې چې خبره داسې ده نو د عيسـى(ع) پـاى وروسـتـه له دې پيښـې نه کوم ځاى تـه وکاږل شـو؟ دې پوښـتنې تـه قرآن شـريف داسـې ځواب وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا بَل بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ ج (النساء : ۱۵۸)**

**((هغوی په يقيني توګه مسيح نه دی وژلی الله هغه خپل لوري ته پورته کړ))**

**يَعِيسَى إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ (آل عمران : ۵۵)**

**((اې عيسى زه اوس تا بېرته راولم او تا به خپل لوري ته راپورته کړم))**

**د عيسى(ع) د ژوندي خېږولو او د مرګ په برخه کې علماوو بېلابېل نظرونه وړاندې کړي دي يو شمېر وايي چې الله(ج) عيسى(ع) ورو ستـه د روميانو او يهودانو د دسيسې له ژغورنې نه په طبيعي مرګ مړ کړ بله ډله بيا وايي چې الله(ج) هغه جسماً مړ کړ خو روحاً يې هغه پورته کړ بله ډله چې اکثريت دی وايي الله(ج) عيسى عليه السلام جسماً او روحاً د ځمکې له کُرې نه پورته کړ او قرآن شريف هم د عيسى(ع) د مرګ په هلکه تصريح نه ده کړې بلکې عيسايانو ته دا ورښيي چې مسيح عليه السلام له سره پانسي شوی نه دی او د هغه چا تصوير چې تاسې د صليب سره يو ځای ګرځوئ هغه له سره مسيح عليه السلام نه دی بلکې هغه الله(ج) له پخوا نه خېږولی وه، بل د عيسى(ع) جسماني پورته بېولو عقيدې ته زياته پياوړتيا له هغو زيات شمېر حديثونو څخه ورسيږي چې له قيامت څخه مخکې دنيا ته دويم ځل د عيسى بن مريم عليه السلام د راتګ او له دجال سره د جنګېدو تصريح کوي د عيسى عليه السلام دويم ځل راتګ په غوڅه توګه ثابت دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عیسی (ع) پای:

دعیسـائیت مبلغین په خپله خوښـه د اروپا پـر لوروخوځیدل (ځکه چې هغوی ته عیسـی علیه السـلام همداسـې امر کړی وو او هغوی په خپله څرګنده کړې وه چې دوی بـه د بني اسرئیلو د ورکو شویو رمولو تـه لېږدول کیږي) له ډېره وخته په هغوی کې بت پرسـتی رواج وه او تـر غاړې پکې ډوب وو یونانیانو هم بت پرسـت وو هغوی ډېر معبودانو تـه الهي صـفات ورکړل، د هغوی انځورونه یې جوړ کړل او د هغو لمانځنه یې کوله، د روزي خدای جلاوو، درحمت جلا او دعوسـې جلا. رومیانو په بت لمانځنه او خرافاتو کې غرق وو، بت لمنځنه د هغوی له غوښـو او وینو سـره یوځای شـوې وه او له بت پرسـتی سـره یې تړاو د وینو او بدن په څېر وو رومیانو د ډېرو معبودانو عبادت کاوه کله چې د عیسایت دعوت ور ورسید نو په دری سوه شپږسنه کې د هغه هېواد قسطنطنین نومي پاچا عیسایي دین خپل کړ هغـه د نوي دین پـه غېږه کې راغی او دا یې یو رسـمي دین وګرځـاوه. نصـرانیت ورو ورو د بت پرسـتی عقاید، رومي رواجونه او یوناني فلسـفه خپلو له هغه پیغمبرانه اصـلیت، ختیځه سـادګي او د توحید جرئت له لاسـه ورکړ ځینې منافقان پکې داخل شـول او په هغه کې یې د ختیځ پخواني عقائد او بت پرستی احکام ځای پر ځای کړل په دې سره یو نوی دین رامنځته شـو چې عیسـا یت او بت لمنځنه دواړه یو ډول پکې ښـکاره کېږي په دې ډول عیسـایت پریو داسـې لاره روان شـو چې د عیسـی علیه السـلام له تګلارې څخه په تمامه معنی بېله وه، عیساسیت د هغه لاروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په څېر شو چې په شعوري يا غير شعوري ډول د شپې په تياره کې لار ورڅخه ورکه شي پر داسې لاره روان شي چې وروسته لومړنۍ لارې ته نه شي راتلای په دې باريک حکمت هغه څوک پوهيږي چې د نصراني دين تاريخ يې مطالعه کړی وي الله تعالی که له يوې خو ددوی بې لاريتوب بيان کړی نو يهودان يې هم مغضوب قوم بللی دی الله(ج) د مسلمانانو په ژبه ويلي:

ژباړه: اې الله! موږ د هغو کسانو پر لاره روان کړې چې تا لورينه ورباندې کړې نه د هغه کسانو پر لاره چې غضب ورباندې شوی او بې لارې وو.

په دې کې د هغه چا لپاره عبرت دی چې تر ډېرې مودې يې د اروپا قيادت کړی، په دې کې د هغه انسانيت لپاره ستره غميزه ده چې تر ډېره وخته اروپايانو د هغه مخکښي کړې او لاهم وربانديې واکمن دی.

د مسيح عليه السّلام وفات:

د څلوېښت کاله دوړ حکومت څخه وروسته به عيسی عليه السلام وفات شي، او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په اړخ کې به دفن شي د ابوهريرة(رض) په اوږده حديث کې راغلي دی چې بيا به هغه کائنات ارضی ته را ښکته شي، او څلويښت کاله استوګنه به وکړي او تر هغه وروسته به وفات شي، او مسلمانان به د هغه جنازه وکړي او دفن به يې کړي ابن حيان او ترمذي په سند د حسن محمد بن يوسف بن عبدالله بن سلام په سلسله سره د حضرت عبدالله بن سلام څخه دا روايت کړی دی چې عبدالله

(c) ketabton.com: The Digital Library

بن سلام وفرمایل چې په تورات کې د محمد صلی الله علیه وسلم صفت (حلیه و سیرت) ذکر راغلی دی، او دا هم لیکل شوي دي چې عیسی بن مریم علیه السلام به د ده علیه السلام سره (په اړخ کې) دفن کیږي.

# پای

## د دوعا ګانو په هیله مو.....

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**